PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای خلکو! تاسې ټول مې له نر او ښځې نه پیدا کړي یاست او تاسې مې خیلونه او قومونه ګرځولي یې تر څو یو تر بله وپیژنئ او بې له شکه چې د الله په وړاندې ستاسې تر ټولو غوره ستاسې پرهیزګاران دي. بې له شکه چې الله په هر څه پوه او خبر دی. (الحجرات: ۱۳ آیت)

درس حدیث

عبدالله بن مسعود (رض) می گوید: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمود: «آیا در میان شما کسی هست که مال وارثش را بیشتر از مال خود، دوست داشته باشد»؟ صحابه گفتند: همهء ما اموال خود را بیشتر دوست داریم. فرمود: «مال خود انسان، همان مالی است که در راه خدا، انفاق کرده است و آنچه را که باقی گذاشته است، مال وارث اش بشمار می رود». (صحیح البخاری)

شهادت درېیم کال، ۴۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د مرغومی ۲۸ مه د۱۴۳۳ هـ ق د صفر ۲۵ مه د۲۰۱۲ م د جنوری ۱۸ مه

جاپان، پاکستان را برای شرکت در کنفرانس کمک به افغانستان بطور رسمی دعوت کرد

اسلام آباد، رسانه ها:
'تادامیچی یاما موتو' نماینده خاص جاپان در امور پاکستان و افغانستان در دیدار با 'حنا ربانی کهر' وزیر امور خارجه پاکستان، بطور رسمی پاکستان را برای شرکت در کنفرانس بین المللی کمک به بازسازی اقتصادی در افغانستان به میزبانی خود دعوت کرد.
به گزارش گران افغانستان به نقل از اعلامیه ، وزارت خارجه پاکستان، حنا ربانی در دیدار با نماینده جاپان درباره مسائل مورد نظر و کنفرانس کمک به بازسازی و توسعه اقتصادی افغانستان که قرار است در ماه جولای سال جاری در توکیو برگزار شود، بحث و گفتگو کردند.
در این اعلامیه افزوده شده: نماینده جاپان , وزیر امور خارجه پاکستان را درباره اقدامات صورت گرفته در برگزاری کنفرانس افغانستان مطلع ساخت.

بقیه در صفحه ۴

د پوهنې وزارت له یونیسف سره د ۵۵.۷ میلیونو ډالرو په ارزښت تړون لاسلیک کړ

یادې مرستې به دهېواد هغو ۱۳ ولایتونو په ۵۵ ولسوالیو کې ولګول شي چې دپوهنې له اړخه په ټیټه کچه کې واقع دي

کابل، رسنۍ:
د پوهنې وزارت او د یونیسف نړیوال سازمان ترمنځ نن د نړیوال مشارکت (پوهنه د هر چا لپاره) په نامه د ۵۵،۷ میلیونو ډالرو په ارزښت یو تړون لاسلیک شو.
د پوهنې وزیر داکتر فاروق وردګ او په افغانستان کې د یونیسف استازي پیټر کرولي د یوې ګډې خبري ناستې پر مهال، چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړه شوې وه وویل، چې د افغانستان د پوهنې وزارت د لومړي ځل لپاره د نړیوال مشارکت یا Global partnershipد سازمان غړیتوب ترلاسه کړی دی.
نوموړي وویل، چې د دې سازمان د غړیتوب د تر لاسه کولو لپاره درې شرطونه شتون لري، لومړی د پوهنې په برخه کې پر خپلو موخو ژمنتیا، د پوهنې په برخه کې د اوږد مهالو او لنډ مهالو پروګرامونو پلي کول او همدارنګه د ظرفیتونو

پاتې ۳ مخ

بیش از ۳۰ تن در اثر برف کوچ ها در ۶ ولسوالی بدخشان کشته شدند

کابل، رسانه ها:
برف کوچ های که عصر روز گذشته از کوه های مرتفع سرازیر شد، جان چندین تن را در شش ولسوالی بدخشان گرفت. شهنواز اطرافی از ساکنان روستای دور افتاده در ولسوالی اشکاشم بدخشان طی یک تماس تلیفونی به رادیو آزادی گفت که بیش از هفتاد خانواده در قریهء زیبچ و غاران ولسوالی اشکاشم زیر برف گیر مانده اند.
محمد رستم راغی ولسوال راغستان به رادیو آزادی گفت که در اثر برف کوچ ها ۵ تن در قریهء سردشت در زیر برف گیر مانده اند. ولسوال راغستان گفت که این برف کوچ ها در منطقهء سردشت به وقوع پیوسته است که بسیار زیان آور است.
در این حال فضل احمد تغرا ولسوال کوهستان می گوید که کم از کم ده تن در اثر برف کوچ ها زیر برف گیر مانده اند.

بقیه در صفحه ۴

د ایران پانګه اچونه له امریکا سره د افغانستان اړیکې خرابوي

آزادي راډیو:
سیاسي څېړونکي وایي، چې په افغانستان کې د کانونو د را ایستلو په برخه کې د ایران پانګه اچوونه له لویدیځ سره د دې هیواد د اړیکو د خرابیدو لامل ګرځي.
وروسته له هغې چې په هرات کې د یوه ایراني شرکت له خوا د دوو کانونو را ایستل د وزیرانوشورا له خوا تصویب شول، سیاسي څېړونکي وایي، چې دا ډول تړونونه له امریکا سره د افغانستان پرسیاسي اړیکو بده اغیزه کوي.
دوی وایي چې د کانونو په را ایستلو اود نورو اقتصادي پروژوپه برخه کې باید یوازې له ګاونډیو هیوادونوسره ښې اړیکې او اقتصادي ګټې په پام کې ونه نیول شي؛ بلکې د دوی په خبره له لویدیځ په ځانګړي توګه له امریکا سره

پاتې ۴ مخ

وحید مژده

ابعاد تازه یی در بحران افغانستان

از مدت‌ها قبل گفته می‌شد که در بحران افغانستان، زمان در اختیار طالبان است. آنها در صدد اند تا نیروهای خود را طوری حفظ نمایند که بعد از سال ۲۰۱۴ که بخش بزرگی از نیروهای خارجی افغانستان را ترک می کنند، توان سرنگونی رژیم را در افغانستان داشته باشند. اکنون که طالبان با ایجاد دفتری در قطر مواقفت نموه‌اند، آیا هنوز هم زمان در اختیار آنان خواهد بود و یا این که امریکا با این اقدام خویش، لااقل در بعد سیاسی، این حربه را از طالبان گرفته است؟
اگر چنین باشد، بحران افغانستان در آینده چه سمت وسویی خواهد یافت؟ گشایش دفتری برای طالبان در قطر و توافق طالبان با این مسأله، هنوز هم از مسایل مورد بحث در رسانه‌های داخلی و خارجی است.
رییس‌جمهور کرزی از این که چنین تصمیمی بدون مشورت با حکومت افغانستان صورت گرفته، راضی نیست و پاکستان هم از این که در رابطه با طالبان کاری مخالف خواست و مشورت با این کشور صورت گرفته، نگران است؛ مسأله یی که می تواند موجب نزدیک تر شدن روابط میان پاکستان و افغانستان گردد.
همین مسأله موجب می‌شود تا ملا آغا جان معتصم، کسی که قرار بود به همکاری پاکستان جای ملا محمد عمر را در تحریک طالبان بگیرد، مخفیانه به کابل می‌آید. ...

(بقیه در صفحه دوم)

په هرات کې د لیتیوم کان نړیوالې داوطلبۍ ته وړاندې کېږي



کابل، پژواک:
د وزیرانو شورا له خوا د نادرو معدني توکو د سپړلو او اکتشاف د تګلارې تر تصویب وروسته به لومړی په هرات کې د لیتیوم کان نړیوالې داوطلبۍ ته وړاندې شي.
د افغانستان د کانونو وزارت ویاند جواد عمر پرون پژواکخبري اژانس ته وویل چې ددې

پاتې ۴ مخ

ایران او امریکا د جنګ په پوله ولاړ دي

عبیدالله صافی

درېیم مخ

هسپانیا خروج سربازانش از افغانستان را به تعویق انداخت

مادرید، رسانه ها:
'پدرو مورنس' وزیر دفاع هسپانیا شب گذشته اعلام کرد که خروج نیروهای نظامی هسپانیایی مستقر در افغانستان در شش ماهه دوم سال جاری آغاز خواهد شد و تاریخ آن شش ماه بیشتر از آنچه که دولت قبلی هسپانیا اعلام کرده بود، به تعویق خواهد افتاد .
به گزارش گران افغانستان، مورنس روز گذشته به منظور دیدار از نظامیان هسپانیایی در افغانستان و به همراه 'فرناندو گارسیا سانچز' لوی درستیز اردوی هسپانیا به منطقه 'قلعه نو' سفر کرد .
'کارمه چاکن' وزیر دفاع سابق هسپانیا اعلام کرده بود که سربازان هسپانیایی خروج خود از افغانستان را از اوایل سال جاری آغاز می کنند اما دولت جدید هسپانیا بر خلاف این امر عمل کرده و می گوید که این خروج را از ماه های اکتوبر و نوامبر سال جاری میلادی آغاز می کند .
در حال حاضر یکهزار و ۵۰۰ تن از سربازان هسپانیایی در افغانستان مستقر می باشند .

بقیه در صفحه ۴

بریتانیا کمک هایش را با افغانستان ادامه می دهد

کابل، رسانه ها:
روزنامه گاردین چاپ بریتانیا گزارش داده است که با وجود افزایش تولید مواد مخدر و موجودیت فساد گسترده اداری در افغانستان، بریتانیا کمک هایش به آنکشور را ادامه میدهد.
اداره بین المللی مطالعات ستراتیژیک با وجود مشکل مواد مخدر و فساد گسترده اداری در افغانستان، خوشبینی اش را از حالات آن کشور ابراز داشته است.

بقیه در صفحه ۴

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

افغانان د سولې د خبرو اترو بشپړ ملاتړ کوي

دا ډېره د خوشالۍ خبره ده چې طالبان د قطر په هېواد کې د خبرو اترو لپاره خپل دفتر پرانستې، افغانان د طالبانو ددغه اقدام هرکلی کوي او ژر تر ژره د افغانستان د لانجې د حل غوښتنه کوي.

که څه هم طالبانو د کرزي له حکومت سره د خبرو اترو پر ځای له امریکا سره د مخامخو خبرو تابیه کړې خو یوازې له امریکا سره خبرې اترې د افغانستان ستونزه نشي حلولې، د امریکا خپل کردار دی او د افغانستان د حکومت خپل، دواړه پخپل ځای د اهمیت وړ دي.

د افغانانو په اند په افغانستان کې تل پاتې امن تر هغه ناشونې دی تر څو پورې چې افغانان پخپله په هېواد کې د امن راوستو په موخه جرګه نه شي، او اقتدار ته د رسېدو لپاره داسې اصول او کړنلاره خپله نه کړي چې د جنګ جګړې ټولې ناروا لارې پرمخ وتړي.

په افغانستان کې د ځېرو په بدلېدو او یا هم د زور له لارې کله د یو چا او کله د بل چا په واکمن کېدو نه امن راتلې شي او نه هم سوکالي.

خدای بخښلي استاد رباني څه باندې څلور کاله حکومت وکړ خو په افغانستان کې خلکو نه د خوشالۍ او سوکالۍ ورځ ولیده او نه هم امن او سکون، د طالبانو په شپږ کلني واکمني کې هم افغانستان د امن کور ونه ګرځېد، د خپلمنځیو جګړو له لارې ډېر افغانان کډه کولو ته اړ شول او د اقتصادي ستونزو ترڅنګ ډېرو نورو کړاوونو هم دهغوی ژوند تریخ کړ.

د یوولسم سپتمبر له پېښې وروسته د امریکا او ناټو ځواکونو د یرغل په نتیجه کې د طالبانو اقتدار هم پای ته ورسېد او پر ځای یې حامد کرزی او دهغه ټیم د اقتدار په ګدۍ کېنول شول. که څه هم د کرزي په لومړیو څو کلونو کې نسبي آرام و او د بیارغاونې ډېر کارونه هم وشول خو په افغانستان کې میشته بهرنیو ځواکونو په خلاف د جنګ سنګرونه تاوده شول، چې بالاخر د لسو کلو په تېرېدو بهرني ځواکونه هم دومره ستړي شول چې له مخالفینو سره د خبرو اترو لاره خپله کړه.

له دې پورتني جریان څخه دا جوته شوه چې په افغانستان کې یو واقعي او تل پاتې سوله تر هغه ناشونې ده تر څو پورې چې افغانان پخپله د سولې او روغې له لارې د حل پر یوه دایمي پلان او طرحه توافق ونکړي.

که چېرته د وسلو او پیسو په زور په افغانستان کې امن راوستل شونې وای نو له امریکا او ناټو هېوادونو څخه زیاته وسله او پیسه له بل هېچا سره نشته، خو ومو لیدل چې دواړه د امن په راوستو کې پاتې راغلل او بالاخر دېته اړ شول چې له مخالفینو سره د خبرو اترو له لارې امن راولي.

د افغانستان تېر وضعیت، ټولو سیاسي او مذهبي ګوندونو ته دا حقیقت مخې ته ږدي چې له خپل تېر پالیسي څخه لاس په سر، او خپلې ناکامې تجربې دې بیا لپاره نه تکراروي، د نورو هېوادونو په تکیه او بروسه دې په زوره اقتدار ته د رسېدو غلط خیال له خپلو مغزو وباسي، ددې پر ځای چې پر نورو هېوادو تکیه وکړي او د غلامي سر ورته کېږدي پخپل غیرتي او مجاهد ولس دې تکیه او بروسه وکړي.

لنډه دا چې په افغانستان کې سوله او امن یوازې په هغه صورت کې راتلی شي چې د نورو هېوادو سره د خبرو اترو ترڅنګ افغانان پخپلو منځونو کې هم له یو بل سره خبرې اترې پرمخ بوځي او خپلو ټولو داخلي او خارجي ستونزو ته د پای ټکي کېږدي.

ټول دې یوه مشترکه ټګلاره جوړه، او اقتدار ته د رسېدو لپاره دې له وړاندېنه اصول او قانون وټاکي. که څه هم د افغانانو په وړاندې ډېرې نورې ستونزې هم شته خو تر ټولو غټه او بنسټیزه ستونزه یې اقتدار ته د رسېدو لپاره د یو متفقه اصل او لایحه نه لرل دي. که څه هم د اوسنی حکومت په اساسي قانون کې اقتدار ته د رسېدو قانوني لاره عمومي انتخابات ښودل شوي خو د طالبانو تحریک د عمومي انتخاباتو پر ځای د اهل حل و عقد له لارې د امیر پر ټاکلو ټینګار کوي.

نو ځکه په موثق ډول ویلې شوو چې تر څو پورې افغانان خپل دغه بنسټیزه ستونزه له هر څه نه وړاندې حل ته کړي او د افغانستان مسلمان ولس د مستقیمو آراو پرته د نورو طاقتونو په ملاتړ او مرسته د اقتدار پر ګدی د کېناستو هلې ځلې جاري وساتي نو په افغانستان کې د جنګ اور کله هم نشي مړ کېدې.

ښه به دا وي چې د افغانستان د لانجې ټول ذیدخل لورې د زمکنیو حقایقو په رڼا کې پر هغو بنسټیزو ستونزو ژور غور وکړي چې افغانان یې تر اوسه له بدحالت سره مخ کړي دي.

کله چې افغانان خپلې لوې ستونزې حل کړي او د اتفاق په ټګر راغونډ شي نو نورې ستونزې به پخپله یو یو له منځه ځي، نه به بهرنیو هېوادونو ته د لاسوهنې مجال پاتې کېږي او نه به مغرضو کړیو ته په هېواد کې اړې ګړې ته د لمنې وهلو توان، بلکې هر څه به د افغانانو د اتفاق په توره له منځه ځي.

ابعاد تازه یی در بحران افغانستان

(ادامهء از صفحه اول)

...او که از یک سوءقصد نافرجام به جانش در هجدهم ماه رمضان در شهر کراچی به شدت مجروح شده بود، بعد از تداوی در یکی از شفاخانه های نظامی آن شهر، چندی قبل به کابل آمد و مدتی را هم در شفاخانهٔ چهارصد بستر اردو زیر تداوی قرار گرفت. او اکنون به یک کشور خارجی فرستاده شده است.

شایعاتی در جریان است که وقتی وضع صحی وی بهتر شود، احتمال دارد جدایی گروهی را از صف طالبان به رهبری ملا محمد عمر، اعلام دارد. معتصم در رده‌های بالای طالبان دوستانی دارد از جمله مولوی عبدالکبیر که اخیراً از جانب ملا محمد عمر از ریاست زون شرق برکنار شد.

مشکل پاکستان در صف طالبان این‌ست که رده های پایین این گروه از ملا محمد عمر اطاعت دارند و امکان این که جدایی افراد رده های بالا، بر رده های پائین تأثیر بگذارد و به انشعاب و جدایی جبهات جنگ بیانجامد، دشوار است. از جانب دیگر، پاکستان از حالتی بیم دارد که طالبان در مخالفت با پاکستان، با ایران رابطهٔ نزدیک تر برقرار نمایند.

افغانستان و پاکستان هر دو از اهداف امریکا با به میان آمدن دفتر قطر نگران اند. پاکستان اقدام امریکا برای پذیرفتن دفتر برای طالبان در قطر را نیز اقدامی غیردوستانه تلقی می کند و به همین دلیل است که کمسیون مشترک صلح میان افغانستان و پاکستان که با ترور استاد ربانی از تحرک و اهمیت افتاده بود، مجدداً به خواست پاکستان فعال می‌شود.

گفته می شود که دولت قطر به طالبان اطمینان داده است که حتا اگر مذاکرات میان امریکا و طالبان به نتیجه نیز نرسد و آنها به جنگ در افغانستان ادامه دهند، این افراد در قطر مصون خواهند بود و از این کشور اخراج و یا به کشور دیگری تسلیم داده نخواهند شد.

آن‌چه در ظاهر به نظر می‌رسد، این‌ست که هنوز قدم اول در راه اعتمادسازی میان طالبان و امریکا برداشته نشده و تنها کاری که صورت گرفته، موافقت امریکا با ایجاد این دفتر است؛ اما هنوز دفتری تأسیس نشده و مذاکره یی هم اگر صورت گرفته، با بعضی از مقامات قطر بوده است. قرار بود تعدادی از سران طالبان که از ده سال به این طرف در گوانتانامو در بند اند، آزاد شوند و طالبان نیز یک سرباز امریکایی (بونی برگدال) را آزاد سازند.

شبکهٔ تلویزیونی الجزیره که مرکز آن در قطر است، خبر آزادی زندانیان طالب را نشر کرد. این خبر هرچند از طرف طالبان و امریکا تکذیب شد، اما با توجه به رابطهٔ نزدیک این شبکه با رهبری قطر، پخش چنین خبری که باوجود تکذیب آن، بار بار تکرار شد، پیام معنی داری را می رساند. آیا زندانیان آزاد شده اند، اما امریکا می خواهد این مسأله پنهان باقی بماند؟ می دانیم که آزادی رهبران طالبان از گوانتانامو در ایالات متحدهٔ امریکا نیز موجب اختلاف شده و بعضی از سناتوزان امریکایی با این کار ابراز مخالفت کرده‌اند و از جانب دیگر، دولت افغانستان خواسته است که این زندانیان باید به دولت افغانستان سپرده شوند.

شورای عالی صلح می خواهد هیأتی به قطر بفرستد تا به قول یکی از سخنگویانش، طول و عرض این دفتر را ببیند، در حالی که هنوز موقعیت این دفتر مشخص نیست، چه گونه می توان طول و عرض آن را مشخص کرد؟ حکومت افغانستان هم می گوید که هرگونه مذاکرات باید به رهبری افغان ها و مشخصاً حکومت افغانستان صورت بگیرد. برای رسیدن به این هدف تلاش دارد تا امریکا را زیر فشار قرار دهد و تأکید دارد تا ادارهٔ زندان بگرام باید در مدت یک‌ماه به افغان‌ها سپرده شود.

گرفتن ادارهٔ زندان بگرام، می تواند موضع حکومت افغانستان را در برابر طالبان تقویت کند؛ زیرا طالبان خواهان آزادی زندانیان‌شان هستند در حالی که زندان‌ها در کنترول امریکایی هاست و طالبان ضرورتی به مذاکره با حکومت افغانستان نمی بینند، از این جاست که رییس جمهور کرزی می خواهد با گرفتن ادارهٔ زندان بگرام، طالبان را وادار سازد تا مشارکت حکومت افغانستان را در مذاکرات بپذیرند.

اما شرط اول طالبان این ست که باید امریکا به اشغال افغانستان پایان دهد و مشخص سازد که نیروهای این کشور چه زمانی افغانستان را ترک خواهند گفت. تا این مسأله مشخص نشده است، نمی توان به آغاز مذاکرات صلح امیدوار بود.

اگر امریکایی ها جدول زمانی و تاریخ خروج نیروهای خود را از افغانستان مشخص سازند و توافق صورت گیرد، در آن صورت مذاکرات بین الافغانی برای ایجاد شرایط مورد قبول برای همه و بحث بر سر نظام مورد توافق همهٔ جهت ها بعد از خروج نیروهای خارجی، به عنوان یک ضرورت تأخیرناپذیر مطرح خواهد شد. اما به نظر نمی رسد که رسیدن به این مرحله به زودی محتمل باشد.

وقتی کار به این مرحله برسد، هیچ گروه و جهتی نباید خارج از جریان مذاکرات بماند. تجربهٔ ده‌ها سال جنگ در این کشور نشان داد که اگر به یک گروه هرچند کوچک در این کشور احساس محرومیت داده شود، می تواند برای این کشور آسیب‌پذیر، سال‌ها ایجاد مشکل نماید.

بازی امریکا در چندین بُعد ادامه دارد؛ در حالی که وزیر خارجهٔ امریکا بار دیگر تأکید می نماید که صلح با طالبان در گرو بریدن این گروه از القاعده و قبول قانون اساسی افغانستان است،

رورا باکر سناتور امریکایی میزبان اجلاسی از مخالفین سیاسی حکومت آقای کرزی در آلمان است که در آن تغییر قانون اساسی افغانستان و به میان آمدن نظام پارلماني به عنوان یگانه راه حل مشکل افغانستان مورد بحث قرار می گیرد. چه گونه می توان از طالبان خواستار قبول قانونی شد که اپوزیسیون سیاسی حکومت هم آن را نمی‌پذیرد و خواهان تغییر آن‌ست؟

رهبری طالبان تمام کسانی را که در گذشته تجربهٔ کار دیپلوماتیک در صف طالبان را داشته اند، به قطر فرستاده است تا در مذاکره با امریکا، یک تیم مذاکره کنندهٔ قوی داشته باشد؛ اما تا آن جا که مسأله به امریکا رابطه می گیرد، اکنون به نظر می‌رسد که این کشور قصد دارد محاسبه را برعکس نماید و حربهٔ زمان را لااقل در بُعد سیاسی از دست طالبان بگیرد. اکنون اوباما می تواند مذاکرات سیاسی با طالبان را بر بنیاد یک جدول زمانی طوری تنظیم و عیار نماید که تا ماه نوامبر سال ۲۰۱۲، نه امتیاز زیادی به طالبان داده شود و نه هم این مذاکرات به شکست بیانجامد. یک روند دوامدار پر از ابهام که لااقل تا نوامبر امسال ادامه می یابد، به این معنی است که در عرصهٔ مذاکرات سیاسی، زمان در اختیار امریکا خواهد بود. از جانب دیگر، امریکا امیدوار است که تأسیس دفتر قطر، موجب اختلافات داخلی در میان آنان شود و به این ترتیب زمینه برای کنار آمدن با این گروه در میز مذاکره فراهم گردد. پرسش این ست که در چنین شرایطی، طالبان به چه راهکاری دست خواهند برد تاموقعیت خود رابهبود بخشند؟ بعضی‌ها ابراز امیدواری می کنند که طالبان به آتش بس راضی خواهند شد و حتا بعضی‌ها می گویند که باید مناطق امنی برای طالبان در داخل افغانستان تدارک گردد.

این پیش بینی ها و پیشنهادات خوش‌بینانه، بیشتر از فقدان یک تجربهٔ موفق برای پایان جنگ از راه تفاهم ناشی می‌شود. ما افغان ها در گذشته هیچ‌گاه رسیدن به صلح از راه همدیگرپذیری را به عنوان یک اقدام موفق تجربه نکرده‌ایم.

برای طالبان نشستن پشت میز مذاکره به معنی پایان جنگ در کوتاه مدت نیست؛ بلکه آن‌ها هرقدر که در بُعد سیاسی خود را تضعیف شده احساس کنند، به سنگر جنگ به عنوان گزینه‌یی برای تلافی ضعف در میز مذاکره، خواهند نگریست و این به معنی تشدید جنگ در آینده خواهد بود، همان گونه که در اعلامیهٔ طالبان بعد از پذیرفتن دفتر قطر می خوانیم: "همچنان که برای ملت مسلمان افغانستان واضح و معلوم است، امارت اسلامی مطابق با خواست ملت خویش، جهت قیام نظام اسلامی از حدود یک دهه به این‌سو مقاومت و جهاد می کند. امارت اسلامی برای به دست آوردن همین هدف و برای آوردن صلح و ثبات در افغانستان، در این اواخر تلاش های سیاسی خویش را افزایش داده است تا برای حل قضیهٔ فعلی، با جامعهٔ جهانی افهام و تفهیم صورت گیرد. اما این تفاهم به هیچ وجه به معنای دست کشیدن از جهاد نمی باشد و نه هم به قبول کردن قانون اساسی ادارهٔ کابل بستگی دارد، بلکه امارت اسلامی در کنار موجودیت نظامی و جهاد، از تحرکات سیاسی نیز کار خواهد گرفت تا آرزوی اسلامی و ملی ملت افغان را برآورده کند."

در این جا پرسش مهمی مطرح است و آن این که از یک‌طرف طالبان تحت رهبری ملا محمد عمر، برای کنترول زمان، نیازمند شدت بخشیدن به تحرکات نظامی در آینده هستند و از جانب دیگر با مذاکره با امریکا، پاکستان را از خود ناراض ساخته اند. در چنین شرایطی، آیا پاکستان به حمایت از این گروه ادامه خواهد داد؟

پاسخ به این پرسش شاید این باشد که طالبان فکر این مرحله از کار را نیز کرده بودند. در شرایطی که جامعهٔ جهانی فشارهایی روزافزون بر ایران وارد می‌سازد، امکان نزدیکی ایران به طالبان می تواند پاکستان را به دوام حمایت از طالبان وادارد. هرچند ایران هر گونه رابطه با جنگجویان در افغانستان را انکار می کند، اما موقف ایران به عنوان یک همسایهٔ مهم افغانستان در این معادله، میتواند بسیار مهم و تأثیرگذار باشد.

ایالات متحدهٔ امریکا در طول ده سال جنگ در افغانستان، دریافته است که طالبان توانمندی ادامهٔ جنگ را برای مدت طولانی دارند، اما این نکته را هم به خوبی می داند که چنین توانمندی الزاماً به این معنی نیست که طالبان کلید صلح را نیز به تنهایی در اختیار دارند. یک گروه می تواند سال ها به جنگ ادامه دهد، اما صلح نیازمند اراده و اقدام جمعی و تفاهم میان تمام گروه های سیاسی درگیر در این منازعه است.

تجربهٔ تاریخی در این کشور جنگ‌زده، نشان می دهد که تأمین صلح و تفاهم، دشوارتر از درهم شکستن نیروهای تجاوزگر است و شکست ابرقدرت ها تا زمانی که به صلح، امنیت، پیشرفت اجتماعی، اقتصادی و سیاسی در این کشور منجر نگردد، در غیر آن جز افتخاری دردناک بر روی کاغذ، چیزی به ارمغان نخواهد آورد.

(با تشکر از سایت گران افغانستان)

ایران او امریکا د جنګ په پوله ولاړ دي

عبیدالله صافي

ورځ تر بلې د ایران او امریکا ترمنځ دښمني زیاتېږي، امریکا ایران ته د بدي محور وایي، خو ایران امریکا د لوی شیطان په نوم یادوي، په دې وروستیو کې چې د ایران او امریکا ترمنځ د دښمنۍ کومه فضاء لیدل کېږي آخري نتیجه یې جنګ ښکاري.

امریکا غواړي چې ایران دهغې د حکم مطابق ژوند وکړي مګر ایران له پیل نه له داسې کولو نه انکار کوي، د ایران او امریکا ترمنځ د دښمنۍ اصل وجه د ایران زروي بم دی. امریکا پر ایران فشار اچوي چې له خپل زروي پروګرام څخه لاس په سر شي خو ایران د پر امن مقاصدو لپاره زروي انرژي ترلاسه کول خپل روا حق ګڼي، که څه هم ایران تر اوسه پورې د زروي پروګرام په سر د مذاکراتو دروازې نه دي بندې کړي خو داسې معلومېږي چې دا خبرې اترې ناکامې او بې نتیجې دي.

د امریکا او ایران ترمنځ د دښمنۍ فضاء له هغې ورځې نه زیاته شوه چې نړۍ وال اتومي انرژۍ ادارې پخپل یو رپوټ کې د څو مبهمو شکوکو په اساس دا فیصله صادره کړه چې ایران اتوم بم جوړوي، له دغې فیصلې وروسته امریکا پر ایران اقتصادي بندیز سخت کړاو پر نړۍ والو باندې یې فشار راوړ چې هغوی هم د ایران په خلاف بندیزونه ولګوي.

امریکا چې سږ کال خپله دفاعي بودیجه اعلان کړه په هغې کې اوباما دا خبره وکړه چې لدې وروسته د امریکا د توجه اصلي مرکز اسیا ده او ددې ترڅنګ به د منځنی ختیځ پر حالاتو هم ژور نظر ساتو، مطلب دا چې د امریکا د نوې دفاعي پالیسي له مخې ایران د امریکا په ټارګټ کې دی.

بل لورې ایران هم د امریکا د ممکنه جارحیت په وړاندې د دفاع کلک انتظامات کړي دي د نوي کال په جنوري میاشت کې ایران د خپل تاریخ تر ټولو لوی سمندري تمرین وکړ، په دې کې پرمختللې الوتکې او کښتې استعمالې کړې، د آبنای هرمز ۲۰۰۰ کیلومتره ساحه یې د هر ډول بحري تګ راتګ لپاره بنده کړه، په دغه لس ورځنی مشقونو کې ایران د غدیر په نوم خپل هغه توغندي هم وازمایل چې پخپله ایراني ساینس پوهانو جوړ کړې دي. په دې لس ورځني تمریناتو کې نږدې ۱۳۰۰ سمندري کښتیو برخه واخیستله او تقریباً له سلو نه زیاتو ځایونو کې د سمندري غلو سره د مقابلې مشقونه ترسره کړل، ایران ددغه سمندري تمرین له لارې امریکا او دهغې اندیوالانو ته خبرداری ورکړ چې په نړۍ کې د تیلو پر دغې مهمې لارې ایران بشپړ تسلط لري.

د ایران مرستیال جمهور رئیس رضا رحیمی خو په څرګندو ټکو کې وویل چې که چېرته امریکا او حلیفان یې د ایران پر تیلو بندیز ولګوي نو ایران به د هرمز تنګي لاره وتړي او هېچاته به اجازه ورنکړي چې لدې لارې تیل تېر کړي، امریکا د ایران له دې اعلان سره سخت غبرګون وښود او د هرمز تنګي د خلاص ساتلو په موخه یې په دغه ساحه کې د ففتهـ نومې سمندري جنګي بېړۍ د ځای پر ځای کولو پرېکړه وکړه، ایران امریکا ته دوه ځلې خبرداری ورکړی چې که د امریکا سمندري بېړی عدنان خلیج ته ننوځي نو ایران به دهغه په خلاف عملیات وکړي، ایران امریکا ته خبرداری ورکړی چې امریکا دې خپل جنګي بېړی له ایراني حدودو څخه لرې وساتي، خو امریکا د ایران ټولې غوښتنې مسترد کړي او په دې سیمه کې د خپلو فعالیتونو د جاري ساتلو اعلان کړی دی.

ایراني ساینس پوهانو په لومړی ځل دعوه کړې چې هغوی د زروي انرژۍ یو راډ جوړ کړی دی چې فاضل یورانیم په وړو وړو ټکړو ویشي او اتومي پلانټ ته خاشاک برابروي، که یو لورې ایران په تیزۍ سره خپل عسکري قابلیت زیاتوي نو بل لورې امریکا هم دهغه د وزرو د پرېکولو لپاره خپل کوښښونه زیات کړي دي تر څو ایران په نړۍ کې یواځې کړي، په ایران باندې د امریکا له لورې له سخت بندیز نه وروسته برتانیا او اروپایي ټولنې هم پر ایران اقتصادي بندیزونه لګولي دي اوس په نړیواله کچه دا اندېښنه زیاته شوې چې که چېرته د هرمز تنګي وتړل شي او یا هم جنګ ونښلي نو د تېلو بیه به د خلکو د خرید له قوت نه ډېره زیاته شي.

له کومې ورځې نه چې ایران د تنګي هرمز د بندولو اخطا ورکړې نو امریکا د خپلو نورو هڅو تیاریو ترڅنګ له متحده اماراتو سره په خلیج فارس کې د ټاډ توغندیو د ځای پرځای کولو تړون هم لاسلیک کړی دی.

اوس چې عملاً د ایراني تېلو پر اخستلو بندیز لګیدلی دی دېته به کتل کېږي چې آیا ایران به د هرمز د تنګي د بندولو خپل اخطار ته عملي بڼه ورکړي او که نه؟ !

امریکا او انګلستان دواړو له وړاندېنه ایران ته خبرداری ورکړی چې د عملي بڼې د ورکولو په صورت کې به سخت عکس العمل ښکاره کوي.

بل لورې امریکا او اسرائیل یو ځل بیا پر ایران د حملې لپاره د تیارۍ په حال کې دي د موثقو خبرونو په حواله امریکا ډېر ژر خپل زرګونه پوځیان او لسګونه توغندي او سمندري بېړۍ اسرائیل ته لېږي او د یروشلم پوسټ ورځپاڼې د ریپورټ په مطابق به دا پوځیان په مستقل ډول په اسرائیل کې اوسېږي، په منځني ختیځ کې چې د امریکا، ایران او اسرائیلو ترمنځ د جنګ کومې تورې تیارۍ وریځې لیدل کېږي دا تر ډېره حده د تشویش وړ دي ځکه چې د جنګ په صورت کې به نه یوازې دغه سیمه له غټ تاوان سره مخامخ کېږي بلکې د نړۍ ټول هېوادونه به هم ددې له مضرو اثراتو بچ پاتې نه شي.

د پوهنې وزارت له یونیسف...

ایجادول. ده زیاته کړه: "په نړیوال مشارکت کې غړیتوب افغانستان لپاره ستره لاسته راوړنه بلل کېږي."

د پوهنې وزیر وویل، چې یادې مرستې په د هېواد په د هغه ۱۳ ولایتونو په ۵۵ ولسوالیو کې ولګول شي، چې د پوهنې له اړخه په ټیټه کچه کې واقع دي.

ده زیاته کړه: "دا پروژه به تر ډېره راتلونکو کلونو پورې په نوموړو ولایتونو او ولسوالیو کې پلې شي."

داکتر فاروق وردګ د دې پروګرام د ګټو په اړه وویل، چې د یاد پروګرام په مرسته به د ښځینه ښوونکو په شمېر کې زیاتوالی راشي، خلک به د پوهنې په بهیر کې ګډ کړای شي، د افغانستان د پوهنې په نظام کې به ښه والی رامنځته شي او له دې لارې به په ښوونځیو کې د ښځینه ښوونکو شمېر لوړ شي، که چېرته په کلیو او بانډو کې ښوونکي نه وي؛ نو له ښارونو څخه به له محرم سره ښوونکي کلیو او بانډو ته ولېږل شي.

وردګ وویل، چې د دې پروګرام په مرسته به د زده کوونکو شمېر له ۸،۴ میلونو نه ۱۲ میلیونو ته ورسېږي، ۲۵۰۰ ښوونځي په جوړ شي، ۴۰۰ هغه ښوونځي، چې د امنیتي ملحوظاتو له امله تړل شوي دي بېرته خلاص شي، ۳۰۰ ښځینه ښوونکې به استخدام شي او همدارنګه ۶۰ زره ښوونکو پوهنیزې وړتیاوې به لوړې شي.

وردګ همدارنګه وویل، چې دا پیسې دنړیوالې ټولنې خیراتي پیسې نه دي؛ بلکې دغه پیسې یې دیو سالم رقابت له امله لاسته راوړي دي.

د یونیسف د نړیوال سازمان استازي پیتر کرولي د پوهنې په نړیوال مشارکت سازمان کې د افغانستان د پوهنې وزارت غړیتوب له امله مبارکي وویله زیاته یې کړه: "د پوهنې په نړیوال مشاوکت کې د افغانستان د پوهنې وزارت غړیتوب د دې وزارت د پیاوړې مدیریت او پوهنې ته د خدمت پایله ده، چې دا غړیتوب د افغانستان لپاره ډېر مهم دی."

د یونیسف د نړیوال سازمان استازي په خپلو څرګندونو کې وویل، چې د افغانستان د پوهنې وزارت به وکړای شي، چې له دې سازمان نه د پوهنې د ښه والي به برخه کې مرستې او امتیازات تر لاسه کړي.

کرولي وویل، چې یاد پروګرام د تجونو لپاره یو ښه فرصت دی، څو زده کړې ته لاسرسی پیدا کړي، ده زیاته کړه: "که چېرې نجونې زده کړې ته لاسرسی پیدا کړي؛ نو دوی کولای شي چې خپل حقوق وپېژني او په ډېر ښه ډول خپل ژوند ته دوام ورکړي."

کرولي په خپلو څرګندونو کې وویل، چې په دې پروګرام کې ډېر تمرکز پر ښځینه ښوونکو چې زیاتوالي باندې وي.

اسلام د امن دین دی

محمد خلیل

د اسلام د سپېڅلي دین له نوم څخه پخپله دا ترلاسه کېږي چې داد امن او سلامتیا دین دی، او قرآنکریم د امن او سلامتیا د قیام لپاره انسان ته د اخلاق، کردار او تمدن وړاندیز کوي.

الله تعالی د مائدې سورې په ۱۵ آیت کې لارښوونه کوي چې:

ژباړه: زموږ رسول تاسو ته راغلی دی او له هغه سره هغه رڼا او ښکاره کتاب دی چې دهغه په ذریعه الله تعالی خپلو هغو بندګانو ته د سلامتیا لارې ورښيي چې دالله تعالی درضا په لټه کې دي.

دلته د سلامتی له لارو څخه دا مراد دی چې د ژوند په هره معامله او مسئله کې الله تعالی خپل بنده ته د امن، عدل او سلامتیا اصول ښيي، لدېنه داپه ګوته شو چې د قرآنکریم تعلیم او د محمد صلی الله علیه وسلم لارښوونه ددې مقصد لپاره ده چې انسانان د امن او سلامتیا لاره ومومي.

دامن او سلامتیا د قیام لپاره له ټولو نه لویه ذریعه د توحید عقیده ده.

کله چې د توحید عقیده وي او هرڅوک د یو الله جل جلاله بندګي او غلامي کوي نو دبې اتفاقی او اختلاف ټول له املونه پخپله له منځه ځي، خو ددې برعکس نورې باطلې عقیدې او نظریات د انسانانو ترمنځ اختلافات او بې اتفاقي پیدا کوي، هرڅوک د خپل نفس بندګي کوي، کله دخپلې کورنی، نسل یا دخپل ګوند خدایي پرځان مني او کله ددولت، منصب او مقام د بتانو پرستش کوي. کله وطن او قوم ته دالوهیت درجه ورکوي، کله د هټلر او سټالین غوندې د ظالمو شخصیتونو پر وړاندې دغلامی سجده کوي او کله هم د غلطې فلسفې او فاسد تهذیب تعویذونه په غاړه ګرځوي، په دې ترتیب د یوې عقیدې پرځای مختلفې عقیدې او نظریات منځ ته راځي او ددې په نتیجه کې دانسانانو ترمنځ ټکر او تصادم واقع کېږي.

داسلام سپېڅلي دین هرډول باطل معبودان او طاغوتي طاقتونه د لا اله الا الله په کلمه له منځه وړي او انسانان دېته چمتو کوي چې د ګڼو باطلو خدایانو پرځای یواځې د یو الله جل جلاله بندګي او اطاعت وکړي.

د توحید دغې عقیدې لازمې او حتمي نتیجه دا راوځي چې ټول انسانان یواځې دیو الله جل جلاله حکمونه مني او ټول پخپلو کې یو بل ته د الله تعالیٰ د بنده په توګه ګوري، نه د خدای په توګه.

دا یو داسې شعور دی چې دانسانانو ترمنځ د امن او سلامتیا لاره پرانیزي.

په قرآنکریم کې الله تعالی موږ ته د امن یو څرګند او قطعي کلیه دا راښودلې ده چې: نه پر بل چا ظلم او تیری کوئ او نه هم دبل چا د ظلم او زیاتي ښکار کیږئ، که څه هم ددغې لارښوونې الفاظ ډیر لږ دي خو د معنی په لحاظ پوره دریاب یې په کوزه کې دننه کړی.

مطلب دا چې اسلام حق دین دا غواړي چې انسانان دې پخپلو کې پر یو بل ظلم او تیری نه کوي بلکه د عدل او امن په فضاء کې دې ژوند وکړي.

داسلام د سپېڅلي دین د امن له دې معیار نه دا اصول ترلاسه کېږي چې په کوم ځای کې ظلم او استبداد منځ ته راشي له هغه ځایه امن کډه کوي؛ او چیرته چې امن راوستل مقصد وي نو بیا دې له هغه ځایه باید د ظلم او تیري ټغر راغونډ کړی شي.

ظلم ګڼ ډولونه او شکلونه لري، ظلم په ژبه هم کیدلی شي او په لاس هم، دقلم په زور هم کیدلی شي او د مال او منصب د غلط استعمال له لارې هم، په اسلام کې ظلم حرام ګرځول شوی او پرځای یې دعدل او انصاف حکم ورکول شوی دی ځکه چې امن د عدل د قیام په صورت کې منځ ته راځي.

په قرآنکریم کې د النور سورې په ۵۵ آیت کې مسلمانانو ته دا ویل شوي دي:

ژباړه: نن چې هغوی د ویرې په کوم حالت کې شپې ورځې تیروي الله تعالی به د هغه پرځای د امن نعمت ور په برخه کړي.

په آیت کې د خوف لفظ چې د امن په مقابل کې استعمال شوی د پاملرنې وړ دی یعني چیرته چې انسان له ویرې سره مخامخ وي هلته امن نه وي، بلکه امن، د ویرې د فضاء د لیرې کیدو وروسته منځ ته راځي که موږ نن سبا پر خپل ژوند نظر واچوو نو د ویرې مختلف ډولونه دانسانانو ژوند ګواښي او د امن له ستر نعمت څخه یې محروم کړي دي، څوک ددې خبرې غم کوي چې د چا دلاسه ونه وژل شي او څوک په دې ویره کې دی چې مال عزت او ناموس ته یې نقصان ونه رسیږي، څوک په دې اندیښنه کې ډوب دی چې تګې او درغلي ورسره ونه شي، لنډه دا چې هر لورې د ویرې تورې وریځې خپلې وزرې غوړولي دي، خو داسلام د سپېڅلي دین غټ مقصد دادی چې انسانانو ته د ویرې له دې خطرناکو ځنځیرونو څخه نجات ورکړي.

ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکي دور کې چې هر لورې ظلم او استبداد حاکم ؤ دا فرمایلي وو چې داسې وخت به خامخا راځي چې یو انسان به له صنعاءنه تر حضرموت پورې سفر کوي خو له الله نه پرته به د بل هیچا ویره د هغه په زړه کې نه وي. (ریاض الصالحین باب الصبر)

دا روایت هم نقل شوی دی:

په الله قسم زما ددعوت کار به تر هغه مخکې ځي چې یوه بوډۍ ښځه به د عربي نړۍ له یوسرنه تر بل سر پورې په یواځې ځان سفر کوي خو هیڅوک به داسې پیدا نشي چې هغې ته په بده سترګه وګوري او نقصان ورته ورسوي.

تاریخ ګواه دی چې د محمد صلي الله علیه وسلم دغه وړاندوینه پوره شوه او د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په وختونو کې یواځې د یوې بوډۍ ښځې اوږد سفر دغه وینا د حقیقت رنګ خپل کړ.

دامن دا خوږ نعمت نن هم ترلاسه کیدلی شي خو په دې شرط چې مسلمانان خپل ایماني مسئولیت وپېژني، یواځې له یو الله نه وویرېږي او د غلامی سر یواځې د یو الله تعالی په وړاندې کیږدي، ځکه چې یواځې د یو الله تعالی غلامي انسان ته د ټولو کړاوونو او بدامنیو څخه نجات ورکوي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

طالب مړو ته د امریکایي عسکرو سپکاوی او د سولې پر بهیر یې اغیز

سنډې ټایمز:
سنډې ټایمز لیکي، د دې ویډیو د خپریدو علت لا هم نه دی څرګند، خو د امریکا د سمندري ځواکونو په نورو ګروپونو کې عسکر فکر کوي، چې ښایي د زیاتو قیوداتو سبب شي.
د امریکا د سمندري ځواکو یوه پخواني منصبدار ډیموتي کوډوو، چې په مارچ کې یې په هلمند کې مسوولیت هغه غونډ ته، چې غړو یې په دې پیښه کې لاس درلود سپارلی و، ویلي، چې زما لپاره دا شخصي سپکاوی دی.
کوډو ویلي، دې عسکرو په ۴۲ ثانیو کې هغه ټولې لاس ته راوړنې په اوبو لاهو کړې، چې ما او زما ډلې تقریباً اوه میاشتې خوارې ورته ایستلې وې.
ده ویلي، چې دا پیښه به نه یوازې دا چې د سولې پر خبرو منفي تاثیر وکړي، بلکې د امریکا د سمندري ځواکونو لپاره به یې نتیجه دا وي، چې د عسکرو تر پښو لاندې ماینونه او په سر پورې د تیریدونکو مرمیو شمیر به زیات کړي.
خوواشنګټن پوسټ دا خبر نه تاییدوي، چې د دې ویډیو خپریدل به د سولې پر مذاکرو ناوړه تاثیر وکړي.

ورځپاڼه لیکي، د دې ویډیو خپریدو پراخ امریکایي ضد احساسات ونه پارول.
یوه افغان چارواکي ویلي، هغه څه چې د جګړې په ډګر کې کیږي د سولې پر پروسې چې په نتیجه کې یې په قطر کې د طالبانو لپاره دفتر پرانیستل کیږي، اغیز نه

کوي.
دا ویډیو په داسې حساس وخت کې خپره شوه، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو رپوټونه ورکول کیږي.
متحد ایالات هڅه کوي، چې د سولې په دې پروسه کې د منځګړي په توګه همکاري وکړي.
د امریکایي چارواکو او طالبانو له خوا وروستی خبرې شوې اعلامیې د دواړو لوریو ترمنځ د باور رامنځ ته کولو لپاره د هڅو څرګندونه کوي.
د امریکا د دفاع وزیر په وروستیو کې د خپرې شوې ویډیو په اړه د تحقیقاتو جدي ژمنه کړې ده او له طالبانو سره یې د سولې د خبرو پردې نازک بهیر، د دې ویډیو د خپریدو د تاثیر په اړه اندیښنه څرګنده کړې ده.
افغان چارواکي وایي، چې پردې مساله له ټولو اړخونو څخه د عکس العملونو خپریدو د داسې یوه منفي اغیز مخنیوی کړی دی.
د ملګرو ملتو په سازمان کې د طالبانو د رژیم پخواني سفیر او د سولې د عالي شورا غړي عبدالحکیم مجاهد ویلي، چې هیله لري، چې دا مساله به د سولې پر مذاکرو اغیز ونه لري.
د سولې دعالي شورا یوه بل غړي ارسلا رحماني ویلي چې دا به د سولې پر روانو هلو ځلو هیڅ اغیز ونه کړي.
د طالبانو یوه ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، چې سوله د افغانانو لپاره یو ډیر لوی تغییر دی او دا پروسه د افرادو له کړو وړو نه شي متاثره کیدای.
مجاهد ویلي، موږ مسالې ته د یوه لوی انځور په ډول ګورو او پر کوچنیو ټکو او داغونو یې سترګې پټوو.

دستگاه نظارت از کیفیت هوا در کابل نصب شد

کابل، رسانه ها:
اداره ملی حفاظت از محیط زیست افغانستان در ادامه ی تلاشهایش به هدف جلوگیری از آلوده گی هوا، به روز سه شنبه یک دستگاه نظارت از کیفیت هوا را در کابل نصب کرد.
دستگاه نظارت از کیفیت هوا می تواند شش نوع گاز زهری مخرب را که برای زندگی انسان و حیوان مضر است، تشخیص کند.
مقامات اداره، ملی حفاظت از محیط زیست می گویند، به وسیله این دستگاه تشخیص می شود که این نوع گازات زهری در کدام ساعات روز بیشتر انتشار می نماید.
مصطفی ظاهر رییس اداره، ملی حفاظت از محیط زیست به روز سه شنبه در محفلی به هدف نصب این دستگاه در کابل به خبرنگاران گفت، معلومات علمی که از طریق این ماشین بدست میاید آن را با ارگان های مسوول در میان می گذارند تا تدابیر جدی تر برای جلوگیری از آلوده گی هوا گرفته شود: "این بار نخست است که این دستگاه به افغانستان آورده شده است.
این ماشین برای شما، مقدار کاربن دای اکساید، کاربن مونوا کساید، و ذرات معلق هوا را عملی نشان می دهد.
معلوماتی را که ارسال می کند، از طریق انترنت آنرا گرفته می توانیم و به هر نقطه ی افغانستان که آن را انتقال دهیم از روی آن می توانیم بعضی پالیسی هایی که داشتیم دوباره آنرا مطالعه نماییم.
آلوده گی هوا را به شکل علمی آن تثبیت می نماید که برای زند گی انسان، حیوان و نبات ضرر دارد."
به گفته مقامات اداره ملی حفاظت از محیط زیست، میزان آلوده گی هوا بیشتر از طریق وسایط نقلیه کهنه، داش های خشت، جنراتور ها و حمام ها افزایش می یابد.
در همین حال شماری از ارگان های مسوول می گویند که در زمینه کاهش از آلوده گی هوا اقداماتی را انجام داده اند.
جنرال نورالدین همدرد رییس عمومی ترافیک افغانستان می گوید، تمام وسایطی که از بنادر وارد کشور می شوند ابتدا از سوی این ریاست از لحاظ تخنیکی مورد کنترول قرار می گیرند:
"بیش از ۱۴۰۰ واسطه نقلیه که ماشین های آن قابلیت حرکت را نداشت و افرازات گازات را تولید می کرد، با موتر های جدید عوض شده اند."
آلوده گی هوا در افغانستان مشکلات زیاد را برای مردم افغانستان ایجاد کرده است، در حالی که ادارات مسوول به هدف رفع این مشکل، تلاش هایی را انجام داده اند، اما گفته می شود که تا حال این کوشش ها موثر واقع نشده اند.

د ایران پانګه اچونه له ...

سیاسي اړیکوته هم باید په جدي ډول پام وشي.
د سیاسي چارو څیړونکي اجمل سهیل د سې شنبې په ورځ ازادي راډیوته وویل، چې په افغانستان کې د ایران دا ډول پانګه اچوول د افغانستان اوامریکا پردوه اړخیزو اړیکو ناوړه اغیزه کوي:
"په هرات کې ایرانیانو ته د کانونو ایستلو په برخه کې ونډه ورکول دافغان حکومت بله تیروتنه ده.
ایران دا مهال سخت ترفشار لاندې دی او متحده ایالاتو پر ډیرو ایراني کمپنیو بندیزونه لګولي، نه پوهیږم چې افغان حکومت بې خبره دی او که بې قصدي دا کار کړی.
دا له سیاسي پلوه د افغانستان پر بهرنیو اړیکو په ځانګړي توګه له امریکا سره پرسیاسي اړیکو ډېره ناوړه اغیزې لري."
ښاغلي سهیل د افغانستان له لارې پاکستان ته د ازبکستان د بریښنا د لینونو د غځولو پروژه چې افغان حکومت تصویب کړې هم له اقتصادي پلوه ګټوره بولي خو وایي، چې په دې برخه کې هم سیمه ییزې او نړیوالې اندیښنې مهمې دي او باید چې له پامه ونه غورځول شي.
د افغانستان د وزیرانو شورا د دوشنبې په ورځ تصویب کړه، چې په هرات ولایت کې د سمنتو او د پهلوانانو د سکرو ډبرو د کانونو د را ایستلو تړون دې د ایران د پیشګامان صنعت مجد کمپنۍ ته ورکړ شي، د دې تړون له مخې نوموړې ایرانی کمپنۍ به په دې برخه کې کابو یونیم سل ملیونه ډالر پانګه اچوي او ډېرش کاله به د دې کانونو د را ایستلو په برخه کې کارکوي.
د کانونو وزارت ویاند جواد عمر د سیاسي څیړونکو اندیښنو اوانتقادونو ته په اشاره وایي، چې دې ایراني شرکت له څلورو نورو کمپنو څخه داوطلبي ګټلې اود دې تړون په برخه کې هیڅ ډول سیاسي موضوع یا امتیاز ورکول نه دي شامل:
"په دې برخه کې هیڅ ډول سیاسي مداخله نشته، کله چې وړاندیزونه ارزیابی کیږي ځانګړې کمیټه شته چې هغوی یوازې د افغانستان د خلکو ګټې په پام کې نیسي.
هرځوک چې په داوطلبیو کې ګډونکی هم اعلانیږي دا سنجول کیږي، چې باید د افغانستان د خلکو ګټې تامینې کړي.
په دې کمیټه کې نړیوال متخصصین او د وزارتونو استازي هم شته او په دې برخه کې ټوله پروسه په بشپړ شفافیت پرمخ ځي."
په وروستیو کلونو کې افغان حکومت د کانونو په برخه کې د بهرنیو پانګه والو پانګه اچوولو ته لومړیتوب ورکړی او کوښښ کوي، چې له دې لارې ملي عواید پیاوړي کړي.
تردې وړاندې د یوشمېر نورو کانونو د را ایستلو په برخه کې هم چین، هندوستان او یوشمېر نور سیمه ییز هیوادونه چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو په چوکاټ کې سرتیري نه لري پانګه اچولې، چې ښه بیلګه یې په مس عینک کې د چین او په حاجي ګک کان کې د هند له خوا سلګونه میلونه ډالر پانګه اچونه ده.
افغان حکومت وایي، چې د کانونو په برخه کې د پانګې اچوونې لپاره یوازېنې معیار د افغانستان ملي ګټې او د داوطلبی له لارې د تړونونو ګټل دي نه سیاسي لیوالتیا او امتیاز ورکول.

جاپان، پاکستان را برای شرکت ...

یاماموتو نقش پاکستان را برای برقراری صلح و ثبات در افغانستان حائز اهمیت دانست و افزود: انتظار می رود در کنفرانس کمک به اقتصاد افغانستان بحث های متنوعی درباره همکاری های اقتصادی منطقه ای نیز مورد بررسی قرار بگیرد.
گفتنی است در این کنفرانس برنامه ریزی برای کمک های بین المللی و اقتصادی به منظور بازسازی و توسعه افغانستان، در یک دهه تحول بین سال های ۲۰۱۴ الی ۲۰۲۴ انجام می شود.
یاماموتو نماینده ویژه جاپان در امور پاکستان و افغانستان در دیدار با وزیر خارجه پاکستان با بیان اینکه توکیو آماده ارائه کمک های خود به پاکستان در بخش های انرژی و تعلیم و تربیه است، تلاش های اسلام آباد را برای ایجاد صلح، بازسازی و توسعه در افغانستان ستود.
حنا ربانی کهر نیز در این نشست از دولت جاپان برای درک پیچیدگی اوضاع و اقدامات قابل توجه این کشور در زمینه ایجاد توسعه در افغانستان و پاکستان تشکر و قدردانی کرد.
وزیر خارجه پاکستان تاکید کرد: پاکستان نیز از توسعه اقتصادی در افغانستان بهره می برد، ایجاد ثبات و امنیت در افغانستان به سود پاکستان می باشد.
حنا ربانی با اشاره به اینکه پاکستان برای برقراری صلح در افغانستان از تمام راه حل های سیاسی استفاده می کند، گفت: اسلام آباد همواره از گروه های سیاسی تابع قانون در افغانستان برای برقراری صلح و ثبات در این کشور حمایت می کند.

بیش از ۳۰ تن در اثر برف ...

وی گفت: "افرادیکه ۱۰ الی ۱۵ راس مال دارند همه بطور دسته جمعی مال های شان را به ولایت تخار انتقال داده اند. بخاطر راه بندان مردم با کمبود مواد غذایی و علوفه حیوانی مواجه شده اند. قیمت یک سیر برنج شوله بی ۶۰۰ افغانی، یک سیر برنج وطنی ۱۴۰۰ افغانی و یک سیر کاه سفید فعلاً در اینجا به ۱۷۰ افغانی به فروش می رسد."
عبدالمعروف راسخ سخنگوی والی بدخشان وضعیت خانواده های را که در زیر برف گیر مانده اند بسیار نگران کننده خواند. آقای راسخ گفت: اگر عمله، نجات به کمک این خانواده ها اقدام به کار عملی نکند، امکان یک فاجعه، انسانی دور از تصور نخواهد بود.
آقای راسخ می گوید که چند بال هیلیکوپتر بخاطر نجات این خانواده ها باید شامل عمله، نجات باشد و به ولایت بدخشان فرستاده شود.
وی گفت، آخرین آمار را که در اختیار دارند بیش از ۳۰ تن در شش ولسوالی بدخشان قربانی این برف کوچ ها گردیده اند.
مقامات بدخشان هشدار دادند که اگر عمله، نجات، ادویه، مواد غذایی، البسه زمستانی و تیم صحی به خانواده های گیرمانده در زیر آوار برف فرستاده نشود، یک فاجعه، انسانی را در قبال خواهد داشت.

په هرات کې د لیتیوم کان نړیوالي ...

تګلارې مسوده شاوخوا دوه نیمې اونۍ مخکې بشپړه شوې او په نږدې ورځو کې به د وزیرانو شورا ته وړاندې شي.
هغه وویل، چې په دې مسوده کې د هیواد ګټو ته په پام سره د یادو کانونو د اقتصادي اړخ تر څنګ امنیتي اړخ هم په پام کې نیول شوی دی.
خو عمر وویل، تر هغه چې دغه مسوده د وزیرانو شورا له خوا تصویب شوې نه وي، دی یې په اړه نور معلومات نه شي ورکولای.
هغه وایي، چې نړیوالې داوطلبی ته د وړاندې کېدو په موخه د هرات د یاد شوي کان د ځانګړنو اړین اسناد برابر شوي دي.
د کانونو وزارت د معلوماتو له مخې، په هرات، غزني، بدخشان، هلمند، نیمروز، نورستان او کونړ ولایتونو کې لیتیوم، یورانیوم، نیوبیوم، کوبالت، بریلیوم، مولیبډنیوم او ځینې نور نادره معدني توکي شتون لري.
لیتیوم یو ډول نرم فلز دی، چې په طبابت او د الوتکو، بټریو او د حرارت په مقابل کې د مقاومې ښیښې په جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي.
له کوبالت څخه د قیمتي زیوراتو او کلکو فلزاتو په جوړولو، له یورانیمو څخه د هستوي وسلو په جوړولو او د انرژۍ په تولید،له نیوبیوم څخه د کلکو فولادو،پایپ لاینونو،جټ الوتکو د ماشینونو او ځینو نورو شیانو په جوړښت کې کار اخیستل کیږي.
له مولیبډونیوم څه د فولادو په جوړولو او نفتو په تصفیه او له بریلیوم څخه د الوتکو او راکټونو په جوړولو او اتومي انرژۍ کې کار اخیستل کیږي.
یوې سروې ښودلې، چې د افغانستان په دېرش سلنه خاوره کې تر درې تریلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت بېلابېل کانونه، لکه د سرو زرو، مسو، اوسپنې، نفتو او نور شتون لري.
تر اوسه له دغو کانونو څخه د لوګر د عینک د مسو کان او د امو سیند د نفتي حوزې د اکتشاف او استخراج ترونونه له چینایي کمپنیو سره شوي او مقدماتي چارې یې روانې دي.

بریتانیا کمک هایش را با ...

در گزارش منتشر شده این اداره، در اشاره به دلایل ادامه کمک ها به افغانستان گفته شده است که حکومت افغانستان تا سال ۲۰۲۰ و حتی تا سال ۲۰۲۵ توانایی دادن معاشات اردوی ۴۰۰ هزار نفری اش را نخواهد داشت.
مصارف سالانه نیروهای امنیتی افغان سالانه هشت ملیارد دالر تخمین شده است که در حال حاضر ۹۰ درصد آن را ایالات متحده می دهد ولی انتظار می رود کشورهای دیگر ناتو هم در این مصارف سهیم گردند.
در این گزارش اداره مطالعات ستراتیژیک، ابراز خوشبینی شده است که کمک های غرب به افغانستان ادامه خواهد یافت.
نماینده ملکی ناتو در افغانستان سایمن گس به روز دوشنبه در انستیتوت رویل یونایتد سرویس گفت، همکاری ستراتیژیک امریکا با افغانستان برای امنیت آینده آن کشور نقش اساسی دارد.
بین بری کارشناس امور دفاعی در این گزارش اداره مطالعات ستراتیژیک گفته است، کاهش نیروهای خارجی در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴، حمایت از طالبان را کاهش خواهد داد.
ولی در این گزارش این هم گفته شده که اگر امریکا بر ایران حمله کند، تمام این خوشبینی ها نقش بر آب خواهد شد، زیرا ایران در جواب به چنین عمل، حمایت اش را از طالبان و دیگر گروه های تندرو افزایش خواهد داد.

هسپانیا خروج سربازانش از ...

مورنس در این باره افزود: خروج سربازان در اولین ماه های سال جاری امری بی معنی است زیرا همزمان با فصل های بهار و تابستان است و در این زمان ها فعالیت گروهک های شورشی بسیار می باشد و باید تا رسیدن فصل زمستان و به منظور اینکه از فعالیت این گروه ها کاسته شود، صبر کرد.
وزیر دفاع هسپانیایی ادامه داد که برنامه خروج سربازان از افغانستان بر اساس تعهدات کنفرانس سازمان ناتو در ماه فبروری سال گذشته است و سربازان تا سال ۲۰۱۴ میلادی از افغانستان خارج خواهند شد.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com